## د الله کتاب د امریکایانو په اور کې

څو میاشتې وړاندې د امریکا په فلوریدا ایالت کې یوې کلیسا له نړیوالو وغوښتل ترڅو د اسلام د خپراوي په وړاندې د احتجاج په پلمه، د سپتمبر یولسمه نیټه د قرآن کریم د سوزونې په نړیواله ورځ ونوموي، بالاخره د روان کال د مارچ په ۲۲ همدې کلیسا عملا قرآن کریم وسوزاوه. د کلیسا دا ناوړه عمل څه نوې خبره نده بلکه دا د لویدیځ د هغو تاریخي دښمنیو د لړۍ بله کړۍ ده چې له اوږدې مودې یې په زړه کې لري او وخت په وخت یې څرګندوي. د سلمان رشدي شیطاني آیتونه، په فرانسه او هالنډ کې پر اسلامي حجاب بندیز، په پیغمبر ﷺ باندې ناوړه تورونه، د قرآن پر ضد کمپاینونه، مسلمانان په ترهګرۍ تورنول او د فاشیستانو نوم ورکول، د پیغمبر ﷺ کاریکاتورونه ویستل او د هغو سیالۍ اعلانول، د هالنډي سیاستوال– ویلدرز فتنه، د جوماتونو په منارو بندیز، د پاپ له لوري پیغمبر ﷺ ته سپکاوی، په ګوانتانامو کې د قرآن کریم بې حرمتي، د الله کتاب په ګولیو ویشتل... دا هر څه د دوی د هغې سترې دښمنۍ کوچنۍ نمونې دي چې قرآن یې موږ ته داسې بیانوي: قَدْ بَدَتِ الْبَغْضَاءُ مِنْ أَفْوَاهِهِمْ وَمَا تُخْفِي صُدُورُهُمْ أَكْبَرُ (ال عمران ۱۱۸) (له خبرو څخه یې کینه څرګنده شوه خو هغه کینه چې په زړونو کې یې پټوي ډېره لویه ده.)

## له صلیبي جګړو وروسته...

کله چې په اتمه صلیبي جګړه کې صلیبیانو ماته وخوړه، نو د هغوی مشر نهم لویس چې د مسلمانانو په زندان کې یې د ژوند وروستۍ شپې سبا کولې خپلو پیروانو ته داسې وصیت وکړ: موږ هیڅکله مسلمانان د زور او ځواک له لارې نه شو ماتولای ځکه چې دوی له خپل دین سره بې کچې مینه لري، ځکه نو ښایي چې له دین سره د دوی اړیکې کمزورې کړو، دیني روحیه یې له منځه یوسو، بې دیني، الحاد او بد اخلاقي پکې دود کړو، د جهاد روحیه پکې وټکوو او د قرآن او حدیثو سره یې اړیکې پرې کړو.همداوو چې د اسلام د له منځه وړلو لپاره یې پراخ فکري یرغل پیل کړ.

## قرآن له منځه یوسئ!

د دې دښمنیو اصلي لامل د همدې کلیسا د مشر، تیري جونز له وینا څخه په ډاګه څرګندیږي چې له CNN تلویزوني چینل سره یې په مرکه کې وویل:(موږ غواړو پدې توګه د اسلام د خپراوي مخه ونیسو. که موږ دا ډول غبرګون ونه ښیو نو څوک به د اسلام د خپراوي په وړاندې ودریږي.) د اسلام دښمنان پوهیدلي چې قرآن د مسلمانانو د ځواک اصلي رمز دی او تر هغه چې دا د دوی په منځ کې شته وي، هیڅکله بری پرې نشي موندلای.

– د انګلستان پخوانۍ صدر اعظم ګلادستون وایي: تر هغه چې د مسلمانانو



ترمنځ قرآن موجود وي، اروپا هیڅکله په ختیځ نه شي برلاسي کیدلای.

– په الجزایر کې فرانسوی قوماندان د دغه هیواد د اشغال په سلم کال وویل: تر هغه چې الجزایریان قرآن لولي او په عربي خبرې کوي، موږ پر هغوی نه شو برلاسي کیدای. ځکه نو اړینه ده چې قرآن د هغوی له زړونو او عربي یې له ژبو څخه وباسو.

– کله چې له سل کاله هڅو وروسته په ډېره بې شرمۍ سره په خپلو پلانونو کې ناکام شول نو د وخت د مستعمراتو وزیر، لاکوست وویل: فرانسې څه کولای شوای، پداسې حال چې قرآن له فرانسې څخه ډېر پیاوړی دی؟

## له قرآن سره د جګړې لارې

له همدې امله لویدیځ تل هڅه کوي چې په هره شونې لار، قرآن له منځه یوسي. د دې موخې لپاره دوی لاندې تګلارې غوره کوي.

۱) د مسلمانانو په زړونو کې د قرآن کریم مقام راټیټول او شکونه ورته پیدا کول: مشهور تبشیري تاکلي وایي: اړینه ده چې قرآن چې د مسلمانانو ستره وسله ده، پخپله د اسلام په ضد وکاروو، موږ باید دوی ته وښیو، څه چې په قرآن ریښتیا کې دي، نوي نه دي او هغه څه چې نوي دي، ریښتیا ندي.

۲) غلط تفسیر او تعبیر: پدې لار کې ډېرو مستشروقینو قلمونه خوځولي تر څو د قرآن غلط تفسیر وړاندې کړي چې زموږ په هیواد کې د دې کار څرګنده هڅه، دری کاله وړاندې د (قرآن پاک) په نامه په دري ژبه د قرآن کریم ناسمه ژباړه وه چې د غوث زلمي له لوري په کابل کې وویشل شوه.

۳) ښکاره دښمني: چې د قرآن سوځونې او سپکاوې له لارې یې څرګندوي: د الجزیرې تلویزون خبریال سامي الحاج چې په ګوانتانامو کې بندي وو، وایي: زندانیانو ته د امریکایانو تر ټولو ستره شکنجه دا وه چې د هغوی د سترګو په وړاندې به یې د قرآن کریم سپکاوی کولو او په تشنابونو کې به یې غورځولو.

## په احساساتي نارو څه نه کیږي!

د مسلمانانو او لویدیځ تر منځ د اخ او ډب ننني مثال هغو دوو پهلوانانو ته ورته دی چې له اوږدې مودې یو له بل سره ښکیل دي. پدې ترڅ کې یو لوری خپل حریف راڅملوي او پر سینه یې کېښیني، لاس او پښې یې وتړي او په ډاډه زړه یې په ځورولو پیل وکړي. کله یې د ځورولو لپاره چاړه راوباسي او پوستکي یې پرې غوڅوي، کله یې په څټک سره هډوکي نرموي او...

ننني پیښې د اسلامي امت لپاره همدا مثال لري چې ساده کسان خو یوازې هغه وخت نارې سورې پیل کړي چې چاړه او یا څټک ووینې... خو لدې پرته له خپلې سینې څخه د حریف د لرې کولو هیڅ خیال نه لري. دوی تل په خوبونو ویده وي او چې کله یې مقدساتو ته سپکاوی وشي نو راویښ



شي، جذبه یې وښوري، وینې یې په جوش راشي او هر ډول قربانیو ته تیار ښکاري... خو وروسته بیا د خپل امت د حالت د بدلولو په هکله هیڅ سوچ او خیال نه لري. دوی ګومان کوي چې که احیانا لویدیځ قرآن ونه سوزوي نو ګواکې له موږ سره یې هیڅ ستونزه نشته؟ که د پیغمبر صلي الله علیه وسلم سپکاوی ونه کړي نو بیا زموږ دوستان دي؟ داسې نه ده، بلکه دا چې نن زموږ مقدساتو ته دومره لاس رااوږدوي، لامل یې دا دی چې موږ کمزوري شوي یو. کابو سل کاله کیږي چې اسلامي امت د خپل حریف په وړاندې را غورځیدلی، خلافت له منځه تللی او د اسلامي امت واحد بدن نن په شپیتو برخو ویشل شوی، داسې برخې چې هیڅ یوه د بل په رنځ نه کړیږي او د یو ځای کیدو هیله او سوچ هم نه لري.که چیرې په ریښتیني توګه غواړو د دغو ناخوالو جرړې وباسو نو باید د خپل دغه ټوټه شوي بدن د یو ځای کیدو تکل وکړو. ټول یو ځای سره هڅه وکړو چې له خپلې سینې څخه دغه ناولی او مکار حریف لرې کړو. بیا به هغه وخت وي چې هیڅوک به زموږ شعایرو ته په سپک نظر نه شي کتلای

## په ځای غبرګون

د دې ټولو ناولیو هڅو اصلي لامل د اسلام له خپراوي څخه د لویدیځ ویره ده، ځکه نن په نړیواله کچه د بل هر دین په پرتله، زیاتو وګړو اسلام ته مخه کړې ده، دا ښیي چې موږ یو ژوندی امت یو او د برلاسۍ او غلبې شونتیا مو دوی په وېره کې اچولي. البرمشادور وایي: (څوک پوهیږي؟ کیدای شي یوه ورځ بیا مسلمانان ټوله نړۍ تسخیر کړي. زه فالبین نه یم، خو بې شمیره کره نښې دلالت کوي چې دا کار شوني دی.) دا د مسلمانانو د بیا واکمنېدو ډار دی چې طاغوتي ځواکونه یې پوچو تبلیغاتو ته هڅولي. د کمونیزم له ماتې وروسته، اسلام د تر ټولو سخت دښمن په توګه ګڼل دا مانا لري چې دا امت ژوندی او بېرته راتلونکی دی. له همدې امله مسلمانانو ته په کار ده چې د اسلام پیغام لا په څرګند ډول نړیوالو ته ورسوي. په همدې لړ کې د وروستۍ پیښې سره جوخت، د امریکا د مسلمانانو شورا (Cair)، غیر مسلمانانو ته د اسلام د پیژندګلوۍ په موخه د سل زرو مصحفونو د ویش خبرداری ورکړ او له مسلمانانو څخه یې وغوښتل چې ګاونډیانو، دولتي مامورینو او ژورنالستانو ته قرآن ډالۍ کړي.

## په قرآن سر ورکوو خو آیا سر ورته ټیټوو؟

درنو خویندو او ورونو! که هغوی له قرآن سره داسې چلند کوي نو څه ګیله ترې نه ده په کار، ځکه له دښمن څخه خو لدې پرته د بل څه تمه کیږي هم نه. خو راځئ سر ګریوان ته کړو او وګورو چې موږ له قرآن سره څه ډول چلند کوو! دا سمه ده چې الحمد لله موږ پرې سر ورکولو ته تیار یو خو آیا

قرآن ته سرټیټولو ته هم تیار یو که نه؟ نن مسلمانان هغه بدمرغه قوم دی چې سره لدې چې د عزت کتاب یې په لاس کې دی خو بیا هم ذلیل دي، دا خو هماغه کتاب دی چې الله پرې امتونه لوړوي، دا کتاب خو الله تعالی رالیږلی وو چې مسلمانان یې ولولي، پرې پوه شي، عمل پرې وکړي او د خدای پر ځمکه یې قانون نافذ کړي، انسان ته عزت او طاقت ورکړي او په ځمکه یې د الله خلیفه وګرځوي، په الله قسم چې دښمن دا کتاب له موږ څخه ښه پیژندلی ځکه یې د له منځه وړلو لپاره شپه او ورځ په ځان یوه کړې خو موږ... موږ خو نن پدې کتاب یوازې پیریان شړو، د انسانانو د ژوند قانون یوازې مړیو ته لولو.موږخو نن قرآن له پارلمان او قضا څخه شړلی، په پوهنتون او ښوونځي کې ځای نه لري، اردو او نظام مو دروازې ورپسې ترلي!!!پداسې حال کې چې الله تعالی قرآن رالیږلی چې امتونه پرې جوړ شي، په سیورې کې یې ژوند وکړي. ښه او بد، حق او باطل، دوست او دښمن، عزت او ذلت، کامیابي او ناکامي، حلال اوحرام...له هغه څخه وپوښتي.

## د قرآن په ننګ را پاڅئ

درنو ورونو او خویندو!راځئ له خپل رب سره سپین وچلیږو. که په ریښتینې توګه غواړو د خپل کتاب څخه دفاع وکړو نو لاندې ټکي هغه څه دي هر یو یې تر خپلې وسې ترسره کولای شو. باسواده، بې سواده، بډای، بې وزله، نر او ښځه... هر یو کولای شو له لاندې یوې لارې څخه د قرآن مرسته وکړو.

۱) د قرآن کریم زده کړه تر خپلې وسې، له تجوید او ترجمې سره.

۲) قراني ساعت: په شپه او ورځ کې یو ساعت د قرآن کریم لپاره بیلول چې پکې تلاوت وکړو، تجوید زده کړو، خپلې کورنۍ ته قرآن وښیو، تفسیر ولولو، په احکامو او مسایلو یې ځان پوه او نورو ته یې ور زده کړو.

۳) د قرآن دارالحفاظونه، مدرسې او پوهنتونونه جوړول یا ورسره مالي مرسته کول

۴) د قرآن کریم احکام زده کول او په ژوند کې پلي کول.

۵) د قرآن پوهنې دورې جوړول او پدې لړ کې مرسته کول.

۶) یو جلد قرآن کریم خپل ملګري، ګاونډي، همکار... ته ډالۍ کول.

۷) علماء: په جوماتونو کې په دوامداره توګه د قرآن کریم ژباړه پیل کول.

۸) د کور لپاره یو معتبر تفسیر چې په پښتو یا درې ژبه لیکل شوی وي اخیستل او د کورنۍ لپاره د قرآن کریم ساده درس پیل کول.

۹) د قرآن کریم د تلاوت، تفسیر او احکامو سي ډي، او کسیټې اخیستل، هم پخپله اوریدل او نورو ته ډالۍ کول.

۱۰) د قرآن کریم په اخلاقو ځان سمبالول: د مسلمانانو لومړني نسل ته متحرک قرآن ویل کیږي چې ټول کړه وړه به یې د قرآن کریم هنداره وه.



۱۱) د قرآن کریم د تفسیر دورې جوړول، تمویل او یا پکې ګډون کول.

۱۲) د قرآنکریم د حاکمیت لپاره په ډلییزه توګه کار کول: مسلمانان هغه مهال بدمرغه شول چې قرآن یې د حاکمیت له منارو د خونو تاخچو ته راکوز کړ او هله به بیا د عزت څلې ته رسي چې همغه یې په ټولنیزژوند واکمن وي.

۱۳) د قرآن کریم په دعوت او پیغام ځان پوهول او نورو ته رسول.

۱۴) د هغه چا سره درېدل او تنظیمېدل چې د قرآن د حاکمیت لپاره کار کوي او د قرآن دعوت خپروي.

## قرآن زموږ قانون دی!

مسلمانانو ته په کار ده چې په عملي توګه یو ځل بیا په ټینګه دا شعار را پورته کړي چې قرآن کریم زموږ د ژوند قانون دی، راځئ په ګډه قرآن کریم ته بلنه او دعوت خپل هدف او مقصد وګرځو، د قرآن کریم تعلیمات په خپل فردي او ټولنیز ژوند کې عملي کړو، د قرآن پیغام راواخلو او د صحابه وو په څېر یې د نړۍ ګوټ ګوټ ته ورسوو، او پدې پیغام خلک د انسانانو له بندګۍ څخه د الله بندګۍ ته، د ادیانو له ظلم څخه د اسلام عدل او د دنیا له تنګسې نه د آخرت پراخۍ ته راوبولو. د قرآن کریم سیستم په خپلو ادارو، سیاست، اقتصاد، قضا، قانون او حکومت دارۍ کې عملي کړو،ترڅو مو الله یوځل بیا د نړۍ په امتونو کې د عزت خاوندان وګرځوي.

إِن تَنصُرُوا اللَّهَ يَنصُرْكُمْ وَيُثَبِّتْ أَقْدَامَكُمْ

## د اصلاح پیغام لړۍ

- د اصلاح پیغام د اسلامي دعوت د خپراوي په موخه په هرو پنځلسو ورځو کې په پښتو او درې ژبو چاپیدونکې لړۍ ده چې وړیا ویشل کیږي.
- دا پیغام بیلابیل دیني او ټولنیز موضوعات د ارزښت په اندول تر پوښښ لاندې راولي او د اسلام په رڼا کې یې د حل لارې وړاندې کوي.
- د اصلاح پیغام ۱۷ ګڼه په یوه وخت کې په کابل، کندهار، ننګرهار او بلخ ولایتونو کې په ۶۰۰۰۰ تیراژ چاپ شوه.
- **د ویش بڼه:** د اصلاح پیغام غړي د خپل وس په کچه پیغامونه د پیسو په مقابل کې تر لاسه کوي او بیا یې په وړیا توګه ویشي چې دا د الله په لار کې د ایثار عملي تمرین دی، اوس مهال پیغام ۲۵۰ دعوتګر غړي لري.
- دا پیغام په پوهنتونونو،ښوونځیو، کورسونو، جوماتونو، بازارونو... کې ویشل کیږي او همدا راز د ایمیل له لارې ۳۰۰۰ هیوادوالو ته رسیږي.
- **ستاسې ونډه:** هیله ده تاسې هم د خیر پدې لړۍ کې له موږ سره یوځای شئ.



جمعیت اصلاح افغانستان
دخوانانو څانګه



يُرِيدُونَ لِيُطْفِئُوا نُورَ اللَّهِ بِأَفْوَاهِهِمْ وَاللَّهُ مُتِمُّ نُورِهِ وَلَوْ كَرِهَ الْكَافِرُونَ (الصف ۸)

# قرآن له موږ نه ګیله من دی

۱۷

د اصلاح پیغام لړۍ

د اړیکو لپاره
پته: کابل،خوشحال مینه،د شاداب ظفر بلاکونو تر شا، د جمعیت اصلاح دفتر
د انټرنټ په پاڼو: اصلاح آنلاین ویبپاڼه: www.eslahonline.net
د هوا په څپو: اصلاح غږ راډیو : ۱۰۴.۳ FM
برېښنالیک: Payamislah@gmail.com
د موبایل شمېره: ۰۷۹۴۶۶۸۸۲۶

دا پیغام آیات او احادیث لري، هیله ده په مناسب ځای کې یې وساتئ